مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۴/۰۱/۲۱

# جون الیا؛ یو بریالی او مضطرب شاعر مګر ناکام مئین او انسان

## ژوند، زده کړې او ادب ته راتګ

جون د هندوستان له تجزیې وړاندې د اتر پردیش ایالت د امروهه سیمې په یوې ادب پرستې کورنۍ کې د ۱۹۳۱ کال د دسمبر په ۱۴مه پیدا شو.

نوموړی یو پوخ ادیب (لیکوال او شاعر)، فیلسوف، تاریخ پوه، څېړونکی، عالم او تکړه نقاد و، چې له اردو پرته یې په عربي، انګریزي، فارسي، سنسکرت او عبراني ژبو کې هم مهارت درلود.

دی د خپل ځانګړي اضطرابي انداز او حیرانونکو شعرونو له امله ډېر مشهور و.

جون په ورونو او خویندو کې تر ټولو کشر و. پلار یې شفیق حسن ایلیا هم له هنر او ادب سره شوق درلود. له دې پرته هغه نجومي او تکړه شاعر هم و. ورور یې (سید محمد تقي) هم یو مشهور ژورنالېست او فیلسوف و. د همدې کورنۍ چاپېریال اثر و، چې جون خپل لومړی اردو شعر یوازې په ۸ کلنۍ کې ولیکه. هغه د خپل کتاب «شاید» په سریزه کې لیکي:

«د عمر اتم کال مې د ژوند تر ټولو مهم او د ماجراو کال و. په همدې کال مې ژوند کې دوه مهمې حادثې پېښې شوې. یوه دا چې د خپلې نرګسي انا له ماتې سره مخ شوم او په یوې مړې انجلۍ مئین شوم. دوهم دا چې خپل لومړی شعر مې ولیکه:

چاه میں اس کی طمانچے کھائے ہیں
دیکھ لو سرخی مرے رخسار کی

ژباړه:

د هغې په مینه کې مې سپېړې وخوړلې
وګوره زما د مخ سورخي وګوره

جون خپل احساس او ضمیر پسې اخیستې و او زړه او ذهن یې دومره مشغول شول، چې دی یې یوې نوې خیالي نړۍ ته کش کړ، په همدې دنیا کې یې یوه محبوبه پیدا شوه چې ده پرې صوفیه نوم کېښود.

د جون په اړه ویل کیږي، چې له ځوانۍ یې کمونیستي فکر درلود، د هندوستان د تجزیې او اشغال کلک مخالف و او د انګریزانو قبضې ته یې په بده کتل.

دی له اسلامي تاریخه هم پوره خبر و؛ مګر له نورو عالمانو سره په ښکاره توپیر؛ جون د مسلمانانو ابتدایي حالت په ډرامايي شکل وړاندې کاوه او تاریخ یې د ډرامې او ناول په ژبه وایه، چې همدې ځانګړي انداز یې مداحان زیات کړل. د جون په وینا: د لومړي دور شاعري یې هم د سټیج ډرامو له مکالماتي فطرت نه اغېزمنه وه.

د ده یو نېږدې ملګری «سید ممتاز سعید» وایي، چې: جون په امروهه کې د سیدالمدارس مدرسې طالب و. یاده مدرسه د اهل تشیع ستر مذهبي مرکز بلل کېده، نو له دې واضحه شوه چې جون ایلیا یو شیعه مسلمان و.

د دې ادعا د لا وضاحت له پاره کولی شئ د هغه شاعري ولولئ، چې ځای په ځای یې د شیعي حوالو یادونه پکې کړې او ډېر ځای یې دحضرت علي کرم الله وجهه په عشق کې شاهکار بیتونه لیکلي.

جون په خپل سیدتوب (سیادت) باندې هم نازېده.

له امروهې تر کراچۍ:

جون د هندوستان د تقسیم سر سخته مخالف و؛ مګر وروسته یې له ناچارۍ ومانه او د حالاتو له خرابېدو وروسته په کال ۱۹۵۷ له پلرني ټاټوبي (امروهې) نه کراچۍ ته راغی. ډېر ژر یې هلته په ادبي حلقو کې برخه واخیسته او د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

پراخي مطالعي پر مټ يې ښکلي شعرونه او نثرونه وړاندې کړل چې له امله يې ژر مشهور شو. خو سره له دې چې جون يو پياوړی اديب و، کله يې هم خپل اثار نشر نه کړل او تر ډيره د نورو يارانو وس و نه رسېده چې هغه د کتابونو چاپولو ته راضي کړي. لومړنی شعري ټولګه (شايد) يې هغه وخت چاپ شوه چې عمر يې ۶۰ کاله و. د کتاب سريزه چې عنوان يې (نيازمندانه) دی؛ جون پکې د خپل وخت ادبياتو او اديبانو باندې پوره کره کتنه کړې.
د ده دوه نورې شعري ټولګې يې تر مړينې وروسته په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو کې چاپ شوې.
د جون ايليا کورنۍ د مذهب په نوم د شدت پسندۍ پر ضد وه او د هغه مشر ورور (رئيس امروهوي) هم د همدې فکر له امله د ځو کرايي قاتلانو له لوري ووژل شو، چې له امله يې جون ايليا هم په عامو محفلونو کې احتياط پيل کړ. دی د خپل ورور وژنې سخت خفه او په ذهني توګه فلج کړ؛ خو د وخت په تېرېدلو سره بيرته نورمال حالت ته را وګرځېده.
جون ايليا له نورو ژبو ژباړې، د اثارو تدوين او نور مصروفيات هم درلودل؛ خو ترجمي او نثرونه يې په اسانۍ نه پيدا کيږي.
د فلسفې، منطق، اسلامي تاريخ، صوفي طريقت، اسلامي ساينس، مغربي ادب او کربلا پيښې په اړه د جون ايليا معلومات له يوې ويکيپيډيا کم نه و او د همدې معلوماتو ځرک يې په شعرونو کې هم له ليرې ښکاري.
د جون د شعر ځانګړی انداز:
د اردو ادب په مشهوره ويبپانه «ريخته» کې جون ايليا تر بل هر چا زيات لوستل شوی شاعر دی. د هغه د خوښوني ډير لاملونه دي.
د جون د شاعرۍ ډيره برخه داسې ده چې د پوهېدلو له پاره يې کوم ټرانسليټ او تفسير ته اړتيا نشته؛ او چې څنګه ولوستل شي زړه ته ښکته کيږي.
مشهور اردو ژبی اديب ډاکټر محمدعلي صديقی د جون ايليا په اړه وايي: جون د ۲۰مې پيړۍ د اردو ادبياتو له دريو مشهورو اديبانو څخه يو و، چې اردو ادب يې بشپړ کړ.
د اردو ژبې يو بل مشهور شاعر آزر باره بنکوی د جون په اړه وايي: د جون د راتلو خبر به له باره بنکی نه تر لکنو پورې داسې خپرېده لکه ځنګل کې اور.
جون ايليا په لومړيو کې رومانوي شعرونه ليکل، چې تر ډيره يې غزلونه دي؛ خو کله چې د هندوستان د وېش کيسې پيل شوې نو د هغه شعري ژانرونو له رومانيت نه حماسيت ته ميلان وکړ. دغه کيسه هلته ختمه شوه چې جون بيرته مئين شو؛ مګر کله چې په مينه کې هم مات شو؛ نو تراژيدي، تنهايي، اضطراب، ځورېدنه او... د جون د شعر اصل مضامين وګرځېدل.
کله به چې د اردو ژبې کومه مشاعره جوړه شوه؛ نو اهل ذوقو به تر بل هر چا زيات جون ايليا ته سترګې په لار و.
د هغه په غزلونو کې پراخه تراژيدي، د مينې، بې وفايي او غم ښه تشريح او له دې هر څه د ويلو ځانګړی انداز هغه څه دي چې دی يې له نورو شاعرانو جدا کاوه.
جون به چې کله هم شعر وايه: لومړي سر کې به يې ښېښه غوښته، د خلکو توجه په خاطر به يې شاعر ملګرو باندې غږونه کول، عينکې به يې باړ، بار په سترګو سمولې او مخ ته به يې ټالی ورکولې چې له امله به يې اورېده وېښتان پر مخ خواره واره شول.

له وطن سره د جون مينه:
د جون ايليا نيږدې رشته دار حيدر نقوي وايي: جون له خپل پلرني ټاټوبي (امروهه) سره بې انتها مينه درلوده او د ژوند تر وروستيو يې امروهه هېره نشوه. د هغه ډير شعرونه شته چې د وطن په ياد کې يې ليکلي.
جون که څه هم د هندوستان دېخوا اوسېده؛ خو له وطن هاخوا د خاپوړو سيمه يې کله هم هېره نشوه.
جون ايليا ۱۸ کاله وروسته په ۱۹۷۵ کال خپل پلرني وطن (امروهه) ته لاړ او هلته په رسېدلو سره يې ښې ډيرې اوښکې تويي کړې.
په ۱۹۸۸ کې له ۱۳ کلن ځنډ وروسته يو ځل بيا جون خپل وطن ته لاړ او چې څنګه له ريل ګاډي ښکته شو، د هغه ځای ځمکه يې ښکل کړه او په کوکو يې وژړل. په ځمکه تر تندي لګولو وروسته يې جامې خيرنې شوې. نيږدې ملګري يې (رئيس نجمي) ترې دوړې وڅنډلې، هغه يې لاس وځنډه او ويې ويل: پرېږده رئيسه! دا د وطن خوشبو ده؛ مه يې ليرې کوه!
کله چې نوموړی خپل وطن ته بيرته ستون شو، هلته يوه لويه غونډه ورته جوړه شوه، چې نوموړي پکې خپل ځو شعرونه ولوستل او چې کله لاندې بيتونو ته را ورسېده سترګې يې اوښلنې او مرۍ ونښته:

هم آندھیوں کے بن میں کسی کارواں کے تھے
جانے کہاں سے آئے ہیں جانے کہاں کے تھے
مل کر تپاک سے نہ ہمیں کیجیے اداس
خاطر نہ کیجیے کبھی ہم بھی یہاں کے تھے


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کیا پوچھتے ہو نام و نشان مسافراں
ہندوستاں میں آئے ہیں ہندوستاں کے تھے
ژباړه:
موږ د توپان له وطن د کوم کاروان څخه و.
خدا چي له کومي راغلو خدا چي د کوم ځای به و؟
په گرم استقبال ما مه خفه کوئ
خاطر مي مه کوئ؛ یو وخت زه هم د همدې ځای وم
څه مي پوښتي نوم و نښان مسافره
هندوستان ته راغلي یو؛ د هندوستان و

له هندوستان تر هجرت وروسته په امروهه کې د جون ایلیا کور وتړل شو؛ خو وروسته یاد کور کمال امروهي واخیسته او کله به يې چي لیدني ته راغلی نو ښه ډیر به يې ورته وژړل. يوه ورځ ترې کوم ملګري وپوښتل: ته ولي هر وخت دې کور ته په کتلو سره ژاړې؟
ده ځواب ورکړ: تا به هم ژړلي وای؛ که د امروهي وای او کراچۍ ته تللی وې. که د جون ایلیا د ماشومتوب یار وای او که د وطن په اړه دې د هغه ساندې اورېدلي وای.
په وروستي ځل چي جون ایلیا خپل وطن ته لاړ او بیا کراچۍ ته د بېرته راتللو وخت شو؛ د خدای پاماني پر مهال يې خپلې خور او خوریانو ته کلکه غېږ ورکړه. خور يې ورپسې وژړل؛ ده ورته وویل: ژر به راشم؛ مه ژاړه! خو تللي بیا کله راغلي دي.
پر جانے والے جلدی کب لوٹتے ہیں۔
وہ شخص کیا ہوا جو تیری داستاں کا تھا !
ژباړه:
هر تلونکی کله بیرته ژر راځي
هغه تن څه شو چي ستا د کیسې کس و!

جون او اقبال:
کله چي جون ایلیا هندوستان ته لاړ او هلته د خپل ملګري شفاعت نقوي کره ديره شو؛ نو ګڼ شاعران يې لیدني ته راغلل. په دوی کې يو شمس الرحمن فاروقي هم و، چي جون سره په بحث، بحث کې د علامه اقبال تر شاعرانه عظمت ورسېده.
جون شمس ته مخ کړ: هغه تن څنګه عظیم شاعر وګڼو، چي په یو وخت يې د مختضادو کردارونو ستاینه کړې؟
شمس وويل: هغه څنګه؟
جون د ویښتو څوکو ته څنډ ورکړ او ویي ویل: علامه اقبال په یو وخت کې په اورنګ زی او سرمد باندې مئین و؛ سره له دې چي یو قاتل او بل مقتول و.
مسولیني کې د انسانیت څه و، چي اقبال پرې مین و او خپل اتل يې باله.
د برتانیوي حکومت د شهنشاه په مخکې يې ولې سر ښکته شو؟
ایا د یو ستر شاعر خوبياني همدا دي، چي هغه دې د هرې طبقې خلکو د خوشحالولو کوشش وکړي؟
او رښتیا باز (شاهین)؛ باز خو یو داسي خونړی او ظالم مرغه دی چي هیڅ د رحم جذبه نلري؛ مګر د اقبال اتل باز و. ایا په دې کار سره هغه انسان ته د خونخوار کېدلو لارښوونه نه ده کړې؟
وايي چي د جون خبرو شمس او ټول نور شاعران چوپ کړل؛ خو په دې وخت ژر یو بل شاعر هربندر سنګ د بل اردو ژبې عظیم شاعر فراق ګورکهپوري په ستاینې پیل وکړ او د مجلس رخ يې بدل کړ.

د جون ایلیا بدعا
په ۱۹۹۲ میلادي کال د کراچۍ په ګلشن اقبال سیمه کې مشاعره وه. د اردو ادب مشهور شاعرانو پکې برخه اخیستي وه. په دې وخت کې یو تن له خپلو ساتونکو سره داخل شو، په دهلیز کې غوغا او ګډوډي جوړه شوه. هر تن د احترام په خاطر پورته کېده؛ خو یو ملنګ په خپله بې خودۍ کې مست ناست پاتې شو. دغه انداز په راغلي کس او ساتونکو يې بده ولګېده او یو تن ساتونکي له یوې کريغې سره وويل: دا حرامي وشړئ. بیا يې ملنګ تر پښو لاندې کړ او په ډېر بد حالت يې پرېښود.
دا ملنګ مشهور شاعر جون ایلیا و او یاد کس په کراچۍ کې د متحده قومي موومنټ مشر عظیم احمد طارق و، چي په هغه وخت کې د کراچۍ مشهور قاتل، ډان او مردار سیاستوال و.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د جون ایلیا کورنی خپله د اېم کېو ایم ډلې له موسسي کورنیو څخه وه. له دې وراندئ هم ایم کیو ایم (له هندوستانه د راغلیو کډوالو پارټۍ) داسې کړنې کړې وې؛ خو کله یې چې د جون ایلیا بې عزتي وکړه؛ نو له عروجه د زوال پر لوري شول او بیا یې کله بنه ورځ و نه لیدله. ښایي د جون ایلیا دا شعر د یادې پارټۍ ښه انعکاس کوي، چې وایي:
کہیں باہر سے نہیں گھر سے اٹھا ہے فتنہ
شہر میں اپنے ہی دفتر سے اٹھا ہے فتنہ
ژباړه:
له باهره نه ده له کوره اوچته شوې ده فتنه
په ښار کې له خپل دفتره پورته شوې ده فتنه

ګډ ژوند (واده):
جون د يوې ادبي رسالې (انشاء) مدير و؛ هلته یې له یوې بلې انتیکي اردو ژبې لیکوالې زاهده حنا سره ولیدل. لیدني یې په مینه بدلې شوې او مینه تر واده ورسېده. زاهده حنا د خپل وخت ترقي خوښې ادیبه وه، چې د ادب او ژورنالېزم له ټولو ژورو خبره وه او اوس هم په بیلابیلو ورځپاڼو، رسالو، مجلو او ادبي ټولنو کې پر ټولنیزو حالاتو او ورځنیو مسایلو ښې لیکنې کوي.
جون ایلیا له زاهده حنا څخه دوه لوڼې او یو زوی درلودل؛ خو په ۸۰یمې لسيزې کې د جون او حنا ترمنځ اړیکې خرې پرې شوې؛ تر دې چې خبره په طلاق باندې ختمه شوه او د یوې بلې مینې لمرین عروج د زوال وریځو پټ کړ.
بیا نو تنهایي د جون ایلیا ملګرې شوه، چې ورځ تر بلې یې د هغه حالت خرابوه او ان د شرابو عات یې ورته پیدا کړ.
له زاهده حنا سره تر مینې وروسته جون بیا کله هم مینه او واده ونکړ؛ لکه څنګه چې خپله وایي:
داستاں ختم ہونے والی ہے
تم مری آخری محبت ہو
...
ژباړه:
کیسه ختمېدونکې ده
ته زما وروستی مینه یې.
که څه هم جون ایلیا یو تکړه شاعر و؛ خو په کورني ژوند کې یو ناکام انسان بلل کېږي. د جون ایلیا نیږدې ترېور سراج نقوي یې په اړه وایي: جون له خپلې کورنۍ، مېرمنې او اولادونو سره ډېره مینه درلوده؛ خو ډېر بې پرواه انسان و چې کله یې هم خپل مسؤلیتونه اداء نه کړل او ډېرې بې پروایي یې ژوند سخت کړ؛ ځکه خو له زاهدې حنا بیلتون ورته تر هر څه غوره ښکاره شو.
د جون ایلیا لور فینانه فرنام په یوه ویډیو کې د جون ایلیا په اړه وايي: «زما پلار په ۲۰۰۲ کې مړ شو؛ خو زموږ له پاره ډېر مخکې مړ شوی و.»
ځوان شاعر سالم سلیم وایي: بېشکه چې جون ایلیا یو ښاغلی ادیب و؛ خو د کورني نظام چلول یې زده نه و. هغه له خاندانه غافل انسان و او دومره یې نشو کولی چې کور ته سبزي راوړي.
دی وایي: ما له زاهده حنا سره د جون په اړه خبرې کول غوښتل؛ خو هغې له تفصیل ورکولو وچ انکار وکړ او یوازې دومره یې وویل چې زموږ اولادونه ما په یوازې ځان را لوی کړي دي.

جون ایلیا او د شرابو عادت:
بدبخت جون ایلیا له طلاق وروسته سختو حالاتو سره مخ شو او ډېرې تنهایی له شرابو سره مخ کړ. مشهور شاعر راحت اندروی یې په اړه وایي: یوه ورځ په مشاعره کې د ګډون له پاره سکهر ته تللو چې له جون مې وپوښتل: کله به ورسېږو؛ نو هغه وویل: بس چې زه ۳ پیکه (د شرابو پیالې) ختمې کړم؛ و به رسېږو.
یو بل ځای ویل کېږي؛ کله چې جون خپل کلي ته لاړ؛ د ماشومتوب نیږدې ملګری عاشق عباس نه یې د شرابو غوښتنه وکړه. هغه چې ټول عمر یې شراب لا بوی کړي نه و؛ د ملګرو له مخې د شرابو دوکان ته ورغی او دومره وشرمېده چې بیا یې د ملګرو په مخ کې تر ډېره سر اوچتولی نشو.
د یو بل روایت له مخې: د جون ایلیا دوی په خاندان کې به چې څوک لږ بې لارې شول نو کورنۍ یې نظر انداز کول. دا چې جون هم په ځواني کې لږ او ډېر شوخ شو؛ نو کورنۍ یې ترې لاس واخیست او د همدې بدمرغۍ اثر و چې هغه شراب څښل پیل کړل. هغه خپله په یو شعر کې وایي:
مجھ کو تو کوئی ٹوکتا بھی نہیں
یہی ہوتا ہے خاندان میں کیا


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ژباړه:
ما څوک منع کوي هم نه
په خاندان کې همداسي کيږي؟

مړينه:
جون ايليا د ۲۰۰۲ کال په ۸م نومبر کراچي کې تر اوږدي ناروغۍ وروسته مړ شو.
میں بھی بہت عجیب ہوں، اتنا عجیب ہوں کہ بس
خود کو تباہ کر لیا، اور ملال بھی نہیں
ژباړه:
زه هم عجيب يم دومره عجيب چې:
ځان مي تباه که او څه غم نه راځي!

ادبي اثار:
تر اوسه د جون ايليا د ۶ شعري ټولګو په اړه معلومات لرم چې نومونه او د نشر کلونه يې لاندي په ترتيب سره ليکل شوي:
شايد، 1991
يعنی، 2003
گمان، 2004
ليکن، 2006
گويا، 2008
راموز 2016
لا هم د جون ايليا يوه نثري مجموعه چاپ شوې چې (فرنود) نوميږي. دغه کتاب په 2012 کال د مينه والو لاسونو ته ورسېد.

د جون ايليا غزل:
تم حقیقت نہیں ہو حسرت ہو
جو ملے خواب میں وہ دولت ہو

میں تمھارے ہی دم سے زندہ ہوں
مر ہی جاؤں جو تم سے فرصت ہو

تم ہو خوشبو کے خواب کی خوشبو
اور اتنی ہی بے مرّوت ہو

تم ہو پہلو میں پر قرار نہیں
یعنی ایسا ہے جیسے فرقت ہو

تم ہو انگڑائی رنگ و نکہت کی
کیسے انگڑائی سے شکایت ہو

کس طرح چھوڑ دوں تمھیں جاناں
تم مری زندگی کی عادت ہو

کس لیے دیکھتی ہو آئینہ
تم تو خود سے بھی خوبصورت ہو

داستاں ختم ہونے والی ہے
تم مری آخری محبت ہو
ژباړه: سمسور ودان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

آنِسؔ مُعین  او د خودکشی لیک یې
له ژوند را ګراني موري او خوږ پلار جانه!
رب مو تل سلامت او خوشحاله لره.
زما د دې حرکت له دې پرته بل هیڅ سبب نشي کېدای چې زه د ژوند له یو ډول توب (مشابهت) بېزاره شوی یم. د ژوند په کتاب کې چې هره پاڼه اړوم؛ هغه متن په نظر راځي چې تېرې صفحې کې مې لوستلی وي. ځکه خو مې په یو وار ډېرې پاڼې پرېښودې او د هغه متن لوستلو فیصله مې وکړه چې په اخرۍ صفحې لیکلی دی.
زه نه د کور له غړو شکایت لرم او نه هم په دفتر یا بهر کې له کوم چا. بلکې خلکو خو دومره مینه راکړه، چې زه یې وړ هم نه وم.
که کوم چا راسره ظلم هم کړی وي یا مې په چا یو څه پور پاتې وي؛ ببنلي مې دي. خدای دې زما زیاتی او ظلمونه هم را وبښي.
په اخیره کې یوه خاص خبره دا چې وروستي وخت کې ما سره داسې هیڅ نه و، چې د خدای په لاره کې مې صدقه کړې وای. نو ځکه له مرګ وروسته خپلې سترګې (د سترګو بانک) ته عطیه کوم. له ما وروسته دې دا سترګې کوم مستحق کس ته ولګول شي. هیله من یم چې زما روح به ورسره حقیقي سکون ترلاسه کړي.
له مړینې وروسته به مې ستاسو دعاګانو ته له اوله زیاته اړتیا وي. البته په غیرضروري رسم و رواج باندې د پیسو مصرفولو ضرورت نشته. له آمنې سره مې یو څه پیسې د دې له پاره ایښې چې په سخته کې یې په کار شي.
ستاسو نالایق زوی!
آنِسؔ ؔمُعین
۴ ـ ۲ ــ ۸۶
آنِسؔ ؔمُعین چې د ۱۹۶۰ یا ۱۹۵۹کال د نومبر په ۲۹مه لاهور کې پیدا شوی؛ له یوې پخې مذهبي او ادبي کورنۍ سره یې اړه وه؛ ځکه خو دی هم د صوفي ازم خوا ته ور کوږ و. ښایي د دې یو لامل به دا هم و، چې د آنِسؔ ؔمُعین نسب ستر صوفي (خواجه معین الدین چشتي رحمه الله) ته رسیږي.
په کم عمر (۱۷ کلنۍ) کې یې شعر لیکل پیل کړ. په خامه ځوانۍ کې د ځانګړي سبک شاعر شو؛ تر دې چې جوش ملیح ابادي به ورته کم عمره سقراط، جابرعلي سید به کوچنی رومي، نسیم لیه او طفیل هوشیارپوري د نوېو فکرونو ارسطو، فیض احمد فیض څېرک دانشور او د هند نیمي لویې وچې ډېرو ادیبانو په شریکه د اردو ادب (کیټس) ورته ویل.
احمد ندیم قاسمي به ویل: زه چې د آنِسؔ  شاعري واورم، زړه کې مې تېر شي چې کاش زه هم داسې شعر وویلی شم.
راز سنتوک به ویل: د آنِسؔ  شاعري حیرانونکې ده.
جون الیا به ویل: د آنِسؔ  شاعري د اردو جدید شعر سرمایه ده.
خو ستر ادیب اشفاق احمد به بیا ویل: ادیبان چې آنِسؔ ؔمُعین ته هر لقب ورکوي؛ خپل کار یې دی؛ مګر زما له پاره آنِسؔ ؔمُعین یوازې آنِسؔ ؔمُعین دی، چې تر ښو شعر او لفظونه ژوندي وي، دی به هم ژوندی وي.
د ده پلار سید فخر الدین هم د اردو او پنجابي ژبو مشعور شاعر و، چې تر ډېره به خپله نشه او سماع کې ډوب و او د اولاد روزنې ته یې د بل اردو ژبې ادیب جون الیا په څېر چندان پام نه کاوه؛ خو مېرمن یې خپل ټول اولادونه سم وروزل.
د آنِسؔ  په اړه ویل کیږي، چې کم عمرۍ کې یې د نورو ماشومانو په څېر خوراک او څښاک باندې جګړه نه کوله او چیرته به یو خوا ته غلی ناست و. ښایي همدا د صبر او چوپې ناستې خوی به مطالعې ته اړ کړی وي، چې کم عمرۍ کې یې ادبیات، سیرت نبي، فلسفه، تصوف او نفسیات ولوستل.
ادیبان په یوه خوله دي چې تر میرزا غالب وروسته آنِسؔ ؔمُعین د کم عمر تکړه شاعر و؛ ځکه غالب هم چې کله خپل لومړی دیوان (ګل رعنا) خپور کړ، هغه مهال ۲۱ کلن و.
د آنِسؔ  شاعري دومره جدیده او ژوندۍ وه چې د اردو ادب کې د تنقید بې تاجه پاچا (ډاکټر انور سیدید) د آنِسؔ ؔمُعین مرګ د نوي غزل مړینه بللې. د ده شعر له روانتیا، غوره مضامینو، ښو استعارو، تشبهاتو او سمبولونو ډک و؛ ځکه خو به په اسانه مشاعرو ته هم نه تلو او ویل یې: خدای هر چا ته دا توان نه دی ورکړی چې زما په شاعري پوه شي.
له مرګ ۵ کاله وړاندې په یوې سترې مشاعرې کې فیض او جوش صیب آنِسؔ ؔمُعین ته په شعر داد ورکړی و؛ خو دا ویره یې هم ورسره ظاهره کړې وه، چې د ده شعر بیخي ځانګړی انداز لري او الفاظ یې داسې دي چې سړی ډاروي/ فکر کې یې اچوي.
پلار یې فخر الدین هم د ۱۹۸۶م کال د مۍ په ۱۶مه ورځ یو لیک کې خپل ملګري ډاکټر وزیر اغا ته همدا خبره تائید کړې او ویلي یې دي: کاش موږ هغه مهال د آنِسؔ د فکري کشمکش لور ته پام کړی او د ده سره مو له هغه درد نه په نجات کې مرسته کړې وای چې په اندرون کې یې و. (ښایي اوس به مو داسې ورځ نه لیدله!)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدغه ويره ډاکټر خورشيد رضوي د آنِسؔ  تر مړيني وړاندې ښکاره کړې وه، هغه ويلي و: د آنِسؔ دننه يو اتشفشان بل دی او خدای مه کړه کومه ورځ به يې ايره کړي.
داسي بيخي نه ښکارېده چي آنِسؔ به ځان وژنه وکړي. اديبان يې د خودکشي په اړه ګڼ علتونه بيانوي.
يو دا چي: کوم دوست يې ورته ويلي و: «له مرګ وروسته ژوند دومره ښکلی دی، که خلک پرې خبر شي د دنيا نيمايي نفوس به خودکشي وکړي.»
دوهم دا چي: له خپلې يوې ملګرې سره يې نکاح کوله، خو کورنۍ ورسره نه منله. هغه ملګرې يې تر نن ورځې معلومه نشوه خو داسي ويل کيږي، چي بانک کي يې کار ورسره کاوو.
دريم دا چي: کوم بانک کي هغه کار کاوه، هلته يو ستر فساد وشو؛ د مشر/ مسؤل په صفت ده ځان ذمه وار باله. دغه فساد د ۳۰ زرو کلدارو و، چي د ده په شعبه کي شوی و.
همدغو ټولو حالاتو آنِسؔ مُعين ځان وژني ته اړ کړ. ده د ۱۹۸۶ کال د فبروري په ۵مه ملتان کي د يو ريل ګاډي مخې ته ځان ور ګوزار کړ او په دې سره اردو ژبې يوه ځوانه هستۍ له لاسه ورکړه.
د آنِسؔ ملګري وايي: په کومه ورځ چي ځوانيمرګ ځان مرګ ته حواله کاو، په هغه ورځ هم دفتر ته راغی. له يارانو سره يې بې ربطه او شکمني غونډي خبري وکړې. له دې يوه ورځ وړاندې چي کله آنِسؔ  د بخارۍ څنګ ته ناست و او د خپلې ځان وژني خط يې ليکه، د مشر ورور (عارف معين) په ليدلو سره وارخطاء شو؛ خو ژر يې کاغذ جيب ته کړ او وروسته معلومه شوه چي دا يې وروستی خط و. د خط ليکلو پر مهال يې پلار اسلام اباد او مور کراچۍ کي وه. يوازې کوژنی خور (امنه) يې په کور وه. د شپې تر ناوخته يې د کورنۍ له غړيو سره وخندل او کله چي سهار شو، د ريل پټلۍ ته ورغی. خلکو فکر کاو چي ګوندې کوم مسافر به وي او سفر ته به راوتلی وي؛ خو خلک خبر نه و چي دی دايمي سفر پسې راغلی. د سترګو په رپ کي يو ريل ګاډی تېر شو او چي خلکو سترګي روښانه کړې، يو ځوان په خپلو وينو کي لژند پروت و. دا ځوان آنِسؔ مُعين  نومېده؛ څوک چي په خودکشي کوونکو اردو ژبو اديبانو کي تر ټولو کم عمره اديب و.
د آنِسؔ مُعين قبر د بهاولپور په مشهورې هديرې (نور شاه بخاری) کي دی.
د آنِسؔ مُعين په اړه دوه ډېرې عجيبې خاطرې ويل کيږي. يو دا چي ده له چا نه د شطرنج لوبه زده کړې وه، بېرته يې هغه (استاذ) ته پکي ماتې ورکړې وه او بل دا چي يو ځل په ښوونځي کي د ښو مقالو ويلو سيالي وه. دی په ۳م ټولګي کي و. ښوونکي ورته مقاله ليکلې وه؛ خو ده د هغې مقالې پر ځای شفاهي خبرې پيل کړې او د قوي دلايلو او حوالو له ورکولو وروسته له سټيج نه ښکته شو، چي له هماغې ورځې يې ښوونکو ته ور جوته شوه؛ دا چي آنِسؔ مُعين  ورو کارونو ته نه دی پيدا شوی.
د آنِسؔ مُعين کومه شعري مجموعه چاپ نشوه، خو ويل کيږي چي له مړيني وړاندې يې لا ۱۵۰ غزلونه او ګڼ نظمونه لرل، چي زياتره يې د اندروني اذيتونو، دردونو، غمونو او منظرو په اړه و. دلته يې د شاهکار غزل څو بيتونه له ژباړې سره ولولئ!
۱

نہ تھی زمیں میں وسعت مری نظر جیسی
بدن تھکا بھی نہیں اور سفر تمام ہوا
#ژباړه:
نه و په ځمکه کي وسعت زما د نظر داسي
لا مي بدن هم ستړی نه و، چي سفر تمام شو
۲
میری قامت سے ڈر نہ جائیں لوگ
میں ہوں سورج مجھے دِیا لکھنا
#ژباړه:
زما له قامته خلک و نه ډار شي
زه يمه لمر خو ما ډيوه وليکه
۳
انجام کو پہنچوں گا میں انجام سے پہلے
خود میری کہانی بھی سنائے گا کوئی اور
#ژباړه:
انجام ته به رسيږم له انجام وړاندې
خپله زما کيسه به هم درته بل څوک کوي
۴
حیرت سے جو یوں میری طرف دیکھ رہے ہو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لگتا ہےکبھی تم نے سمندر نہیں دیکھا؟
#ژباړه:
په حیرانتیا چې زما طرف ته داسې ګورې
ښکارې چې کله دې لیدلی سمندر نه دی
۵
عجب انداز سے یہ گھر گرا ہے
مرا ملبہ مرے اوپر گرا ہے
#ژباړه:
په عجیبه انداز دا کور لویدلی
زما ملبه ښېرته په ما لوېدلې
۶
رہتا ہوں جس زمیں پہ وہی اوڑھ لوں گا میں
جائے امان اک اور بھی ہوتی ہے گھر کے بعد
#ژباړه:
په کومه خاوره کې چې اوسمه، هغه به واغوندمه
د امان بل ځای هم شته له کوره وروسته
۷
وہ میرے حال پہ رویا بھی، مسکرایا بھی
عجیب شخص ہےاپنا بھی ہے، پرایا بھی
#ژباړه:
هغه زما په حال وخندل او وژړل
عجیبه کس دې خپل یې هم کرمه پردی هم
۸
ہے میرے اندر بسی ہوئی ایک اور دنیا
مگر کبھی تم نے اتنا لمبا سفر کیا ہے؟
#ژباړه:
زما دننه ده ودانه یوه بله دنیا
خو کله دې دومره اوږد سفر کړی؟
۹
چپ رہ کر اظہار کیا ہے کہہ سکتے تو آنِسؔ
ایک علاحدہ طرز سخن کا تجھ کو بانی کہتے
#ژباړه:
په خاموشۍ مې اظهار کړی، که ویلی مې شوای آنِسؔ ه!
د یو جدا سبک رهبر به ومه
۱۰
آخر کو روح توڑ ہی دے گی حصارِ جسم
کب تک اسیر خوشبو رہے گی گلاب میں
#ژباړه:
اخر به روح مات کړي حصار د بدن
څو به اسیار وي خوشبو ته په ګلاب کې
۱۱
جیون کو دکھ، دکھ کو آگ اور آگ کو پانی کہتے
بچے لیکن سوئے ہوئے تھے، کس سے کہانی کہتے
#ژباړه:
ژوند ته درد، درد ته اور، اور ته اوبه ویلې وای
ماشومان ویده وو؛ نو چا ته مې کیسه ویلې وای
۱۲
ہوجائے گی جب تم سے، شناسائی ذرا اور
بڑھ جائے گی شاید مری تنہائی ذرا اور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولــئ

#ژباړه:
که دې لړ نور هم وپېژنم
ښايي اوږده مې شي تنهايي نوره
۱۳
پتھر ہیں سبھی لوگ، کریں بات تو کس سے؟
اس شہرِ خموشاں میں صدا دیں تو کسے دیں؟
#ژباړه:
تيږې دي ټول خلک، خبرې خلک چا ته وکړي
په دې خاموش ښار کې که غږ کوم نو چا ته وکړم؟
۱۴
باہر بھی اب اندر جیسا سناٹا ہے
دریا کے اس پار بھی گہرا سناٹا ہے
#ژباړه:
بهر مې هم د اندرون غوندې وحشي خاموشي
د سيند په هاغه غاړه هم ده وحشي خاموشي
۱۵
نہ جانے باہر بھی کتنے آسیب منتظر ہوں
ابھی بس اندر کے آدمی سے ڈرا ہوا ہوں
#ژباړه:
خدای خبر بهر به هم څومره مصيبتونه منتظر وي
اوس خو ايله زما دننه شخص نه ويرېدلی يمه
۱۶
اس طرح اب دیکھتا ہوں آئینہ
جیسے کوئی خود سے پوچھے: کون ہے؟
#ژباړه:
اوس اينه هم داسي ګورم لکه
څوک چې له ځانه پوښتي: څوک دی؟
۱۷
سب لوگ سوالی ہیں، سبھی جسم برہنہ
اور پاس ہے بس ایک رِدا دیں تو کسے دیں
#ژباړه:
ټول خلک سوالګر دي، ټول جسمونه بربنډ
ما سره يو څادر دی، که ورکوم يې چا ته يې ورکړم؟
۱۸
اس بند گھر میں کیسے کہوں کیا طلسم ہے
کھولے تھے جتنے قفل، وہ ہونٹوں پہ پڑ گئے
#ژباړه:
په دغه کور کې څنګه ووايمه څه جادو دی؟
خلاصې چې شوې څومره تالې، په شونډو ولګېدې
۱۹
میں جستجو میں ہوں آئینے کو کھرچ رہا ہوں
میں رفتہ رفتہ مٹا رہا ہوں نشان اپنا !
#ژباړه:
زه جستجو کې يم، نوکارې په هنداره وهم
زه ورو، ورو خپل وجود خاورې کومه
۲۰
ہماری مسکراہٹ پر نہ جانا
دیا تو قبر پر بھی جل رہا ہے
#ژباړه:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

زما په موسکا مه غلطېږه
ډېوه خو قبر باندې هم بلېږي
ژباړه: سمسور ودان

ژباړه: سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ